بسم الله الرحمن الرحیم

اداریه

# په افغانستان کښې د څلورو ملکونو

# اجلاس او د امن عمل

په درویشتمه فروری، په افغانستان کښې د څلورو ملکونو د نمائندګانو یوه غونډه وشوه. په دغه غونډه کښې افغانستان، پاکستان، چین او امریکا شامل وو. په شریکه اعلامیه کښې د افغانستان او طالبانو د نیغ په نیغه خبرو دپاره او د امن د کوششونو جاري ساتلو دپاره شریکه رائې مخې ته راغله.

د دغې څلورو ملکونو د غونډې د شریکې فیصلې د کاغذ سیاهي لا وچه نۀ وه چې په کونړ او کابل کښې بمې چاودنې وشوې. په دغو چاودنو د ۲۹ فروری، په اخبارونو کښې د افغانستان اولسمشر اشرف غني له خوا د ردعمل په طور د خبرو نه د بائیکاټ خبرونه خوارۀ شو.

دغسې ورپسې د افغان سینئر نائب وزیر داخله ایوب سالنګي لخوا د دې ځائې په خفیه ایجنسۍ الزام مخې ته راغلو. او یو ځل بیا د خبرو اترو دپاره حالات ناسازګار ګڼلے کیږي. په اصل کښې چې کله مسئله خبرو اترو طرف ته ځي نو ظاهره ده چې د خبرو اترو عمل هم په خپل وجود کښې ډیرې پیچیدګۍ لري. او فریقین د خبرو او فیصلو نه د زیاتو ګټو پورته کولو دپاره خپل پوزیشن په ښه او طاقت ور حالت کښې د پیش کولو هڅه کوي. دغسې تراوسه دا پته په پوره ډول نه لګي چې د متحرک قوتونو نه کومې ډلې د خبرو په حق کښې دي او کومې نۀ دي. هسې خو ټولې ډلې ځان ته طالبان وائي. د کونړ او کابل دغه حملې کومو طالبانو منلي دي؟ دا خبره هم لا په پوره ډول واضح شوې نۀ ده بیا هم مونږ په دې صفحو کښې تل د امن او خبرو د عمل دپاره د هر کوشش هرکلے کړے دے.

تقریباً د څلورو لسیزو نه دا جنګ د مختلفو مرحلو نه راتېر شو. په دې کښې د خبرو اترو دپاره هم ډېر کوششونه شوي دي. اوسنۍ مرحله شاید چې په څو حوالو د نورو مرحلو نه بل شان هم ده. یو دا چې څومره جنګ چې کول وو هغه وشو. دویم دا چې د پښتنو مشرانو چې وخت په وخت په دې جنګ کښې د لاس وهنې نه د خپلو خلقو ساتلو کومې ویرې ښکاره کولې نۀ یوازې هغه ویرې اوس هر چا محسوس کړې بلکې چې زمونږ مشرانو به د دې خاورې امن د افغانستان د امن سره مشروط کوؤ هغه خبرې هم آخر د دې ځائې مقتدرو خلقو اومنلې. او دا اوس ټول په ټوله وائي هم او مني هم. چې د دې خاورې امن د افغانستان د امن سره تړلے دے. دریم دا چې د مفاداتو د جنګ نه علاوه اوس د اقتصادي ګټو پورته کولو وخت راغلے دے. او د جنګ نه امن ته راتلل به د نورې دنیا د ملکونو ضرورت هم وي. دغه وجه ده چې د مفاداتي جنګ نه پس د تضاداتو لرلو باوجود د څلورو ملکونو چین،امریکه،افغانستان او پاکستان د امن د عمل دپاره لاره جوړول کومه د حېرانئ خبره نۀ ده.

څلورم چې د دې اوږد جنګ نه د دې ځائې په عامو خلقو کښې کوم بدلون راغلے دے دا کۀ لږ محسوس کېږي کۀ ډېر هیڅوک ئې نظر انداز کولے هم نۀ شي. ځکه نو د هر څه باوجود به شاید چې د خبرو دغه عمل جاري ضرور وي. خو د دغې عمل دپاره چې د اعتماد سازۍ کوم ضرورت ؤ د هغې دپاره  مونږ د وخت ډېر زیان کړے دے. باید چې د دې دپاره اوس د ډبل ګیم یا تارونو راښکلو نه څنګ اوشي او د خپلو مفاداتو سره د ګاونډي ملکونو د آزادۍ او مفاداتو خیال اوساتلے شي.

د امن په عمل کښې چې هر څوک را شریک کېږي باید چې د دې ملک د دریو متاثره صوبو خلق او د هغوي قیادت هم نظر انداز نۀ کړے شي. ځکه چې دا تاریخي قامونه او اولسونه کوم سوالګري نۀ دي بلکې د خپلې خپلې تاریخي خاورې مالکان دي.